# لفظيات
# (Etymology)

## باچا خان څېړنيز مرکز کښې د توسيعي لکچر خصوصي غونډه

ډاکټر محمد زبېر حسرت

په ٦ مۍ ٢٠٠٩ء د باچا خان مرکز په څېړنيز سنټر کښې د ډاکټر فضل الرحيم مروت د صدارت لاندې د توسيعي لکچرونو په سلسله کښې يوه غونډه وشوه، د دې غونډې مشر مېلمه پروفېسر نصيرالدين طالب صاحب ؤ چې په لفظيات (Etymology) ئې خپل توسيعي لکچر د خپل دېرش کاله تحقيق په تناظر کښې وړاندې کړو.

د غونډې نظامت ډاکټر محمد زبېر حسرت ترسره کړو. په دې موقع ښاغلي ځلان مومند ټولو راغليو مېلمنو ته هر کله راشه او پخير راغلے ووې او د دوي مننه ئې وکړه چې په دومره سختو حالاتو او مصروف ژوند کښې ئې زمونږ د پاره وخت ووېستلو او دلته راغلهٔ. پروفېسر نصيرالدين صاحب د خپل لکچر په تمهيد کښې ووئيل چې تقريباً دېرش کاله به ئې شوي وي چې روزنامه مشرق پېښور د مردان د نقيب الله روهي صاحب سره يوه انټرويو کړې وه او هغوي پکښې د پښتو او انګرېزۍ په لساني شرکتونو رڼا اچولې وه، ولې ما چې غور وکړۀ نو ډېر لفظونه داسې هم وو چې هغه د نورو ژبو سره هم شريک وو او دا اشتراک راته د انډوجرماني يا اريائي رشتې معلوم شو او چې مې لا پسې د دغې کورنۍ د ديارلسو، څوارلسو ژبو مشترکاتو لټون وکړو نو شمېر ئې ٣٨٥ پورې ورسېدو خو د لفظي يا لساني موضوعاتو سره دلچسپي اکثر پوهه او ليکونکي کسان لري ځکه نو درې څلورکاله د خپل طالب علمۍ دوران کښې چې به زۀ د اولسي ادبي جرګې هفته وار اجلاسونو ته



کله کله لاړم نو زمونږ د ادب اتلان لکه حمزه بابا ، کامل مومند ، قلندر مومند ، ولي محمد طوفان، لطیف وهمي او حسین بخش کوثر به په دغه اړخ څۀ نا څۀ بحث کولو ، په خاصه توګه کوثر صاحب به پکښې زیات مصروف ؤ. د افغانستان حبیبي صاحب به هم چې کله دغه اجلاس ته راغے نو په دې موضوع به ئې خبرې کولې.

دغه موده کښې د "لار" اداري کلېنډر چاپ کړے ؤ چې د باچا خان د عکس سره پرې "کال هنداره" عنوان ؤ. مونږ اکثرو کشرانو ته د هنداري معنې نۀ راتلې نو قلندر صاحب ووې چې دا 'ائینې ته وائي او ځکه وائي چې د هند د مخصوصې خطې نه علاوه قدیمه معنې اوبۀ هم دي ځکه هنداره او هندوانه ترې اشتقاق شوے دے. وروستو ژوند کښې ما ته د مختلفو علاقو هغه مخصوص الفاظ رامعلوم شول چې په نوښار، پېښور، چارسده او مردان کښې مروج نۀ دي.

پروفېسر وړاندې خپل لکچر کښې نۀ یوائې د پښتنو د مخصوصو علاقو په لفظي بدلونونو خبرې وکړې بلکې د دې پښتو تورو اشتراکات ئې د دنیا د نورو زړو او نویو ژبو لکه عبراني، عربي، سنسکرت، جرمني، روسي، انګرېزي، فارسي وغېره سره وښئیل. دوي دا هم په ګوته کړه چې لفظونه څنګه جوړېږي، څنګه ورانېږي، شکلونه او معنې ئې څنګه بدلېږي. د یوې ژبې نه بلې ژبې ته څنګه سفر کوي او دغه سفر خپل مزل څنګه په خپل منزل تماموي.



د پروفېسر نصیرالدین طالب صاحب د خصوصي لکچر نه پس ته ښاغلي ډاکټر فضل الرحیم مروت ووې چې مونږ اول خو د طالب صاحب مننه کوو چې مونږ ته ئې خپل خصوصي لکچر راکړو او بیا دا خبره کوو چې دېرش کلونه ډېره اوږده موده ده پکار وه چې د پروفېسر صاحب دا تحقیق ډېره موده وړاندې مخې ته راغلے وے لوستونکیو طالبعلمانو به ترې ډېر څۀ زده کړي وو. ډاکټر مروت صاحب په دې موقع د مروت والي لهجې، بنوڅي لهجې او وزیرو د مختلفو لهجو په تورو هم رڼا واچوله.

سلیم راز صاحب ووې چې پروفېسر صاحب زۀ د ډېرې زمانې نه پېژنم چې زمونږ ډېر ښۀ ترقي پسند او قام پرست شاعر، ادیب، محقق او نقاد ملګرے دے او د ډېرو ښو ښو شاعرانو ادیبانو سره ئې ناسته پاسته کښې د خپلې خیرکتیا له کبله ډېر څۀ زده کړي دي. راز صاحب زیاته کړه چې د پروفېسر صاحب خواري یقیناً چې د ستائیلو او قدرولو ده خو زما دا خیال دے او لکه څنګه چې پروفېسر صاحب هم ورته اشاره وکړه چې ژبې عالمان نۀ جوړوي

بلکې په ټولنه کښې چې اولس کومې عامې خبرې کوي هغه د هغوي ژبه وي او اولس د ژبې خالق او امين وي.

د راز صاحب خبره ښاغلي سعدالله جان برق وړاندې بوتله، دوي ووئيل چې د ژبې د لهجو د



بدلون يوه عامه وجه دا ده چې زمونږ په کليو کښې هر لس دولس کلومېټره پس لهجه بدلېږي. ژبه يوه ده خو لهجې بېلې بېلې دي ځکه چې پښتنې قبيلې هم جدا جدا دي نو دغه د لهجو بدلون د نويو ټکو په راجوړولو کښې لوئې لاس لري بله خبره دا ده چې د ټکيو د جوړېدو او وړانېدو دا عمل يواځې په پښتو کښې نۀ د دنيا په هره ژبه کښې يو روان عمل دے، داسې ډېرې ژبې ختمې شوې هم دي او نورې نوې ژبې هم پېدا شوې دي.

برق صاحب خپلو خبرو کښې د عبرانۍ، سنسکرت، عربۍ او انډو اريائي ژبو ځنې نور مثالونه هم ورکړۀ او دغه سلسله ئې نسلونو او حسب او نسب ته ورسوله.

له دوي وروستو د سوالونو جوابونو دوران کښې ښاغليو مشتاق مجروح يوسفزي، امجد شهزاد، زاهد بونېري، سمندر يوسفزي او فرهاد محمد غالب ترين د ژبو د لهجو او تورو په حقله د پروفېسر صاحب نه پوښتنې وکړې چې پروفېسر صاحب ئې ګټور او تسلي بخش جوابونه ورکړل.

د ذکر شويو کسانو نه علاوه په دې موقع مير حمدالله شاه (د مير مهدي شاه باچا زوي)، احسان الله، سېفي، ناصر خان او حيات خان هم موجود وو.

دا غونډه درې نيمې بجې ختمه شوه او د مېلمنو تواضع په ډوډۍ او چايو وشوه.